کتاب پېژندنه

د کتاب نوم	زمونږ د باچا خبرې، لومړۍ برخه
ټولونه	ډاکتر محمد یحیی وردک
خپرندوی	د افغانستان معلوماتي مرکز، افغانیک
د ټولنې ویبپاڼه	www.afghanic.org
د خپرونو لړ	شپږم
کمپوز	افغانیک، جرمني
چاپشمیر	۱۰۰۰ ټوکه
چاپکال	۲۰۰۸ میلادي، ۱۳۸۷ لمریز
چاپځای	بن ښار، جرمني
ډاونلوډ	www.afghanic.de/bk
بیه	دوه ایرو

www.sikaram.com

فهرست

سریزه
د باچا خان ارمان ۱
اسلام / رښتینی مسلمان ۲
عدم تشدد یوه نوې عقیده؟ ۳
مشال ٤
د قوم ملګرتیا ۵
زما د ولس کمی ۶
خپل کور ودان کړئ ۷
مایوسي ۷
موږ څه غواړو / کارکول ۸
صبر ۹
د حکومتونو نړېدل ۱۰
ظالمان ۱۰
د ماشوم والي عادتونه ۱۱
کامیابي ۱۲
سخات خیرات ۱۳
خیرات او ذکات ۱۴
د انسان کمزوري ۱۴
د قومونو راویښول ۱۵
د خلکو پېغورونه ۱۶
خراب عادت ۱۶
خپل مذهب په پردۍ ژبه ۱۷
دا کارکولی شم او دا نه! ۱۸
عزت ۱۹
کمزورتیا / قوم او ژبه ۲۰
ورور وژنه ۲۱
دعا / لاربښوونکی؟ ۲۲
یهود او فلسطنیان ۲۳

www.sikaram.com



د قوم ترقي / ټوپک که قلم	۲۴
امان الله خان او انقلاب	۲۵
خدايي خدمت	۳۵
لومړنی تقرير	۲۶
سياسي شعور	۲۸
قامولي	۲۹
بد نصيبه قوم / نفاق	۳۰
د ونې مثال	۳۱
يو قوم شئ / خدايي خدمت	۳۲
ښځې	۳۳
خدايي خدمتګاري	۳۴
د تحريک مقصد	۳۵
ستاسې ملک	۳۶
بد قسمته قوم	۳۶
زموږ ملک	۳۷
اصلي مطلب	۳۸
صابران	۳۸
زموږ ملاتړ	۳۹
د خپل ملک جامې / ژبه	۴۰
زموږ مشر	۴۱
بادشاهي	۴۲
زموږ حکومت	۴۳
ښځو ته	۴۴
بدل	۴۵
وېره	۴۶
په نورو اعتراضونه	۴۷
مذهبونه / زما مذهب	۴۸
ليډران او قوم	۴۹

www.sikaram.com

د کلي تحریک ۵۰
په کابل کې د هند سفیر ته ۵۱
اندرا گاندي ته پیغام ۵۲
د قام آبادي / دین او زړه ۵۳
تشدد ۵۴
د جینکو تعلیم او تربعیت ۵۵
د جینکو ورکول ۵۶
د جینکو ورکول ۵۶
د ځان خاورې کول ۵۷
اختلاف رای ۵۷
د اوسنۍ نړۍ ساتل ۵۸
د خدایي خدمتگارۍ قسم ۵۹
خبرې او عمل ۶۰
ځان و پېژنئ ۶۱
مآخذ ۶۲

www.sikaram.com

سریزه

تاسې د افغانستان او سیمې په تاریخ کې داسې یو څوک نومولی شی، چې ستاسو لپاره سرمشق او د مثال نمونه وي؟

اته کاله مخکې یو ژورنالست د خپلې مجلې لپاره په یوه مرکه کې له ما څخه پورتنې پوښتنه وکړه. *

ما د دې پوښتنې په ځواب کې د عبدالغفار خان (باچا خان) نوم واخیست. که څه هم په هماغه وخت کې ما باچاخان ډیر نه پېژانده او نه مې د ده لیکنې او نه مې ډېر څه د ده په هکله لوستلي وو، هغه هم د مهاتما ګاندي په هکله د کتابونو له لارې.
خو په دې وروستیو کلونو کې هر څومره چې زما معلومات او مطالعه د دغه سړي په هکله زیاتیږي، هغومره زما علاقه او مینه ورسره زیاته شوې او لانوره هم ډیریږي.

زما په نظر د غفار خان د شخصیت لویوالی او ارزښت هم په دې کې دی، چې دی زموږ د خلکو بنسټیزو ستونزو لکه تشدد، بدل، بې تعلیمي، افراط، بی ځایه سیالي او په خپل دین ناخبري ته ځیر او د هغو سره یې عملي مبارزه کوله. څرنګه چې په موږ کې لا اوسمهال هم دغه شیان له منځه نه دي تللي، نو له همدې کبله د باچا خان لارښودنې او

---

*دغه لنډه مرکه د Ost-Westliches Journal, 3/2000 کې چاپ شوې ده.

www.sikaram.com

ژوند نه يوازې تاريخي ارزښت لري، بلکې زموږ د نن ورځې د ستونځو د حل غوره لارې هم دي.

نو ځکه د ده خبرې زما د زړه خبرې هم دي. له همدې کبله دغه خبرې تاسو ته هم وړاندې کوم، کيدای شي، چې لږ تر لږه ځينې خبرې به ستاسو د زړونو خبرې هم وي.

که داسې وي، نو خدای وکړي چې په عملي کولو سره يې د خپل ځان، خپلو خلکو او خپل ملک په ګټه ترې ګټه واخلو.

د دغه کتاب د ليکلو لپاره زه د دغو ښاغلو څخه ډېره مننه کوم، چې خپل کتابونه يې ماته په اختيار کې راکړل: ښاغلی مبارز ځاپی، ښاغلی ډاکتر رمضان سعادت، ښاغلی هدايت الله بنګش ، ښاغلی شاه جهان کاکاخيل. د ښاغلی محمد رضا خان نه مننه چې يو زيات شمېر عکسونه يې راکړل. او د ښاغلي نسيم صابر هم منندوی يم، چې په ليکدود کې يې زما لاسنيوی وکړ.
زما هيله دا ده چې د باچا خان نورې خبرې او د ده په هکله د نورو خبرې هم راټولې او هېوادوالو ته يې وړاندې کړم.

يحيی وردک

بن ښار، جرمني، نوامبر ۲۰۰۸ م کال

www.sikaram.com

د باچا خان ارمان

زه یو خوب وینم، یو لوی ارمان لرم.

زما د ولس حالت د صحرا د هغو ګلونو په څېر دی، چې صحرا کې زرغون شي، څوک یې غم نه خوري،

یو څو ورځې پس مړاوې شي او بیا د خاورو سره خاورې شي.

زه غواړم چې زما ولس د یو بل سره په غمونو او ښادۍ کې شریک وي.

زه غواړم چې زما ولس د قام د خوشالۍ لپاره د برابرۍ په بنیاد د یو بل سره اوږه په اوږه کار وکړي.

زه غواړم چې دوی خپل ملي رول ولوبوي او الله تعالی او بشریت ته د خدمت له لارې، د نړۍ د نورو ولسونو په قطار کې خپل مناسب ځای ونیسي.

Eknath Easwaren. Nonviolent soldier of Islam, ۷۷مخ،

اسلام

دا زما پخه عقیده او باور دی.

چې اسلام **عمل**، **یقین او محبت** دی.

مسلماني بې مطلبه شي. قران دا خبره ښه صفا کړې ده چې

په یو الله باور لرل او نېک **عمل** د انسان د نجات د پاره کافي دي.

ایکنات سوارن، حضرت باچا خان-ژوند او فلسفه، ۱۱مخ

رښتینی مسلمان

رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته دا سبق راکړو، چې هغه کس

رښتینی مسلمان دی، څوک چې د الله تعالی د مخلوق د خوشالۍ او ګټې

لپاره کار کوي.

په خدای پاک د عقیدې دا غوښتنه ده چې سړی د انسانانو سره مینه

وکړي.

ایکنات سوارن، حضرت باچا خان-ژوند او فلسفه، ۹۹مخ

www.sikaram.com

عدم تشدد، یوه نوې عقیده؟

زما په څېر پښتون یا مسلمان لپاره د عدم تشدد د فلسفې خپلول کومه د حیرانتیا خبره نه ده. دغه خو یوه نوې عقیده نه ده.

دا خو څوارلس سوه کاله پخوا د پیغمبر له خوا تل په مکه کې تطبیق شوي او دهغه وخت څخه را پدیخوا، دهغوټولو لخوا په کار اچولی شوې ده، چې ځان د ظلم څخه خلاص کړي.

خو موږ هېره کړې وه او کله چې ګاندي جي زموږ پر مخکې وا چوله، موږ فکر کوو، دغه یوه نوې عقیده ده.

Eknath Easwaren. Nonviolent soldier of Islam, ۱۰۳مخ،

مشال

پښتانه ډیر مضبوط قوم دی او ګټه کولی شي.

خو په پښتنو کښې دوه کمزورتیاوې موجودې دې:

- یوه دا چې بې اتفاقه دي
- او دویم دا چې پیسې ته ټینګ نه دي

که دا دوه کمزورتیاګانې ترې ووځي،

نو د دنیا هیڅ طاقت پرې غلبه نشي کولی.

پښتون مجله، اتمه ګڼه، ۱۹۹۲ م، پېښور، ۷۳ مخ

www.sikaram.com

د قوم ملګرتیا

موږ خو د خدای د پاره لګیا یو، د دې قوم خدمت کوو.

که قوم زموږ ملګرتیا وکړه، نو دوی به آزاد شي نو که زموږ مخالفت یې وکړو نو دوی به برباد شي.

ولې چې بغیر د قوم د امداد نه موږ خپل منزل ته رسېدی نه شو.

زما ژوند او جد و جهد، ۵۳۹ مخ

زما د ولس کمی

زما د ولس تاریخ د ګټو او د مړانې د کیسو څخه ډک دی.

ولې دلته کمي هم شته،

هغه دا چې د ډیرو قربانیو ورکولو نه وروسته هغه څه چې تر لاسه شوي دي، هغه خپلو کښې د دشمنیو او ذاتي حسد په وجه بایلل شوي دي.

دوی ته تل خپلو کښې د بې اتفاقۍ په وجه تاوان رسیدلی دی.

بهرني قوت په دوی بریالی شوی نه دی.

ایا څوک د جنګ په میدان کې د دوی مخه وهلی شی؟

ایکنات سوارن، حضرت باچا خان-ژوند او فلسفه، ۵۵مخ

خپل کور ودان کړئ

ای پښتنو !

ستاسو کور وران شوی دی.

راپاڅی او دا وران کور بیا ودان کړئ

او دا خبره یاده لرئ چې تاسو د یو باتور نسل سره تعلق لرئ.

ایکنات سوارن، حضرت باچا خان-ژوند او فلسفه، ۴۰ مخ

مایوسي

زه نه مایوسه کېږم.

مایوسي په هغه کسانو باندې راځي، چې د ځان د پاره کار کوي.

څوک چې د خپل غرض او خپل مطلب د پاره کار کوي.

زه خو د پښتون خدمت د خدایي خدمتګار په حیث کوم.

زه به ولې مایوسه کېږم.

- د باچاخان سره د غني خټک مرکه: حضرت باچا خان، ژوند او فلسفه کتاب، ۳۴۱ مخ

موږ څه غوړو؟

موږ یو نوم غواړو

په دې کور کښې یوه خونه غواړو

خو غواړو چې موږ په خپله د دې خونې څښتن او جوړونکي وو

Rajmohan Gandhi. Ghaffar Khan: non-violent Badshah of the Pakhtuns ۲۴۳ مخ

کار کول

د دې ټولو خبرو نه موږ له سبق اخیستل په کار دي او هر کار چې کوو نو محض په جوش او جذباتو یې ونه کړو. بلکه د هغې په هر پهلو باندې په ښه شان سوچ او غور وکړو

او که چیرې د هغې د پاره د هر قسم قربانۍ او تکلیفونو ته تیار نه یو، نو شروع یې نه کړو.

زما ژوند او جدو جهد، ۲۸۶ مخ

صبر

زه تاسو ته يوه داسې وسله درکول غواړم، چې پوليس او پوځ به ستاسو سره څه کولې نه شي.

دا زموږ د پيغمبر وسله ده. دا د صبر او استقلال او په نېغه لاره د تلو وسله ده. د دنيا يو قوت هم د دې طاقت مخه نه شي نيوی.

چې تاسو کله خپلو کليو ته ورځئ، نو خپلو کليوالو ته ووايئ، چې دلته يو د الله تعالی فوځ دی، چې وسله يې صبر ده.

خپلو ورونو، تربورانو او کليوالو ته ووايئ، چې د الله تعالی په دې فوځ کې شامل شئ او په دې لاره کښې ټول تکليفونه وزغمی.

که تاسو صبر خپل کړو، نو تاسو به بريالي وئ.

ايکنات سوارن، حضرت باچا خان۔ژوند او فلسفه، ۲۲۳مخ

www.sikaram.com

د حکومتونو نړېدل

زه دلته تاریخ نه بیانوم، صرف دا خبره ښکاره کوم چې د دې څه وجه ده چې پښتون لوی لوی حکومتونه جوړولی شول خو ټینګولی یی نه شول؟ د دې وجه دا وه، چې په پښتنو کی اجتماعي ژوند ، قومیت او اتفاق نه و.

زما ژوند او جدو جهد ، ۹ مخ

ظالمان

رښتیا خبره دا ده چې ظالمان بهادران نه وي،

ډېر بزدله او بیمانه وي.

بهادر سړی هیڅرې په چا ظلم نه کوي.

زما ژوند او جدو جهد ، ۲۸ مخ

د ماشوم والی عادتونه

په ماشوم والي کښې چې څه عادتونه په بچو کښې پيدا شي،

نو چې بيا غټ شي، نو هم پکښې وي

او په ډېره مشکله د هغو بدو عادتونو نه خلاصيدی شي.

زما ژوند او جدو جهد، ۱۸ مخ



کامیابي

د کامیابۍ د پاره اجتماعي تحریک او قرباني په کار وي. نو د چا په زړه کښې چې دا قسم جذبات او احساس پیدا کېږي هغوی له په کار دی چې په قام وګرځي او ځان سره د دې قسم د احساس خاوندان ملګري پیدا کړي او په ګډه د ظلم، زیاتي او بې عزتۍ مقابله وکړي.
چې په قام کښې داسې ډله پیدا شي او قوم تنظیم کړي
نو کامیابي حاصلېدی شي او هغه قام بیا څوک غلام ساتلی نه شي.

زما ژوند او جدو جهد، ۲۸ مخ

www.sikaram.com

سخات خيرات

زه د عربو په ټولو ملکونو کښې ګرځېدلی يم. ما هلته حتی په مکه معظمه، مدينه منوره، نجف او کربلا کښې هم چېرې دا د سخات او خيرات طريقه نه ده ليدلې.

حال دا چې هلته دا طريقه ده، چې مړی اوشی، خلک خبر شي، بيا جنازه جومات ته راوړي هلته يې جنازه اوشي.

د دعا نه پس وارثان خپل مړی د ښخولو د پاره مقبرې ته يوسي او نور مسلمانان خواره شي.

دا اسلام خو موږ ته د عربستان نه راغلی دی،

خو خبره دا ده چې دا قسم عادتونه په موږ کښې خود غرضو خلکو پيدا کړل.

زما ژوند او جدو جهد، ۴۰ مخ

www.sikaram.com

خیرات او ذکات

اسلام چې خیراتونه او ذکاتونه واجب کړي او لازم کړي دي، په هغې کښې لوی راز دی. دا چې زمونږ خوږ رسول ص وایي چې «صدقه بلا رد کوي».

دا بلا تاسو پیژنئ دا خو د غریب او امیر ترمینځ نفرت نه بلا ولاړیږي. نو چې شتمن خلک د بې وزلو پوښتنه وکړي، دهغوی سره د مصیبت په وخت کښې مرسته وکړي، نو د غریبانو د خپلو امیرانو سره مینه محبت پیدا شي او د بلا مخه ونیول شي.

زما ژوند او جدوجهد، ۴۲ مخ

د انسان کمزوري

انسان هم یو عجیبه څیز دی. څه وخت چې کمزوری شي او همت بایلي نو بیا د خپلې کمزورۍ او بې همتۍ د پټولو د پاره قسماقسم حیلې او حوالې لټوي.

زما ژوند او جدوجهد، ۲۸۵ مخ

www.sikaram.com

د قومونو راويښول

پښتون يو ژوندی قوم دی. د قوميت او قربانۍ ماده هم پکښې شته، خو راويښول غواړي. قومونه خو تش په ګُف او چُف نه رابيداريږي.

د قومونو د ژونديکولو او بيدارولو د پاره داسې کسان په کار دي چې بی غرضه وي، ديانت دار وي، ايماندار وي او د خدای د پاره خپل قام خدمت ته تيار وي. چې داسی کسان په کوم قام کښی پيدا شي، نو د هغوی په کوښښونو هغه قام کښی مينه، محبت، همدردي، وروري او عزيزولي پيدا شی. هغه قام اباد شي.

موږ بې همتو او خودغرضو خانانو، ملايانو او باباګانو تيارې ته کښېنولي يو، ځکه خو زموږ دا حال شو.

زما ژوند او جدو جهد، ۶۷ مخ

www.sikaram.com



د خلکو پېغورونه

زما خپلوانو او دوستانو ډېر راته ووې چې ولې پیاده ځې،

دا خلک به څه وایي؟

مونږ د خلکو د پېغورونو له کبله ډېر غلط کارونه کوو.

ما ورته وویل چې زه د خلکو خبرو ته نه ګورم، کار ته ګورم.

که کار درست وي، خلک چې هر څه وایي زه به یې کوم

او که کار غلط وي، نو که خلک هر څه وایي زه یې نه کوم.

زما ژوند او جدوجهد، ۱۵۸ مخ

خراب عادت

افسوس په دې دی چې مونږ سره څوک ښه سلوک کوي،

هغه ته نېغ یو او چې څوک مو سر په ډنډه وهي

نو هغه ته ټیټېږو او دا ډېر خراب عادت دی

او مونږ ته داسې عادتونه پرېښوول په کار دي.

زما ژوند او جدوجهد، ۲۴۰ مخ

خپل مذهب په پردۍ ژبه

د هندوانو او مسلمانانو مذهب په بله ژبه کښې دی. د هندوانو مذهب په سانسکریت کښې دی.

هندوان په هغه نه پوهېږی او زموږ مذهب په عربی کښې دی او موږ په عربی نه پوهېږو.

زما ژوند او جدو جهد، ۲۸۳ مخ

www.sikaram.com

دا کار کولی شم او دا نه!

نو چې هر کله موږ خپلې کمزورۍ د خدای نه پټولی نه شو، نو په کار ده چې د خلکو نه یې هم پټې نه کړو.

او چې کوم کار کولی شو په جار وو ایو چې دا کولی شم او چې کوم کار نه شو کولی په جار وو ایو چې دا نه شم کولی.

او دا و نه کړو چې یو ښه کار دی چې زما یو بل ورور لګیا دی کوي یې او هغه کار زه کولی نه شم.

نو موږ له د هغه امداد په کار دی، مخالفت یې په کار نه دی.

او پخپله ډله او قوم کښې اختلاف پیدا نه کړو او په ځای د ډاډ ورکولو په هغه قسما قسم الزام و نه لګوو او هغه ته مشکلات پیدا نه کړو.

زما ژوند او جدو جهد، ۲۸۷ مخ

عزت

د هر سړي خپل عزت په خپل لاس کښې دی

او که هر سړی خپل خواهشات او ضروريات قابو کړي،

نو هميشه به ارام، خوشاله او عزتمند وي.

زما ژوند او جدو جهد، ۳۰۰ مخ

www.sikaram.com

کمزورتیا

پښتنو کښې دا ډېره لویه کمزورتیا ده، چې چېرته لاړ شي او چا سره واده وکړي نو خپله ژبه ترې پاتې شي.

زموږ سره په سرحد کښې په زرګونو هندوان اوسي، هغوی هغه خپله ژبه هېر کړې نه ده، پنجابي یې هم زده ده او زموږ ژبه یې هم زده کړې ده.

دا کمزوري صرف په موږ پښتنو کښې ده.

زما ژوند او جدوجهد، ۳۰۱ مخ

قوم او ژبه

حقیقت دا دی چې په دغه وخت په پښتو کښې هیڅ نه وو او نه پښتو د چا یاده وه او پښتون قوم دومره ناپوهه، نادانه و، چې دا خپله ژبه ورته سپکه ښکارېده.

او چې کوم قوم ته خپله ژبه سپکه شي نو هغه سپک شي، او چې خپله ژبه ترې ورکه شي نو ورک شي.

زما ژوند او جدوجهد، ۳۳۴ مخ

www.sikaram.com

ورور وژنه

ای پښتنو ورونړو

یو کافر خپل کافر ورور نه وژني.

تاسو چې ځان ته مسلمان وایئ بیا ولې یو پښتون بل پښتون وژنئ؟

او نه چرې یو فرنګی پخپل قوم مخبری کوئ او د هغوی ملګرتیا کوئ او

نه چرې یو هندو د خپل هندو برخلاف نا حقه او د دروغو شاهدی کوي

او نه د خپل هندو ورور د شرمولو او د بې عزتۍ کوشش کوي.

خو ای پښتنو ورونړو بیا ولی تاسو په ناحقو شاهدو د یو بل بې عزتي او

شرمولو پسی روان یئ.

لږ خو د خدای نه وبربږئ او شرم وکړئ.

زما ژوند او جدوجهد، ۳۱۶ مخ

دعا

موږ چې ځان ته مسلمانان وايو او پښتانه يو ، موږ دې خپل پښتون مسلمان وروروژنو ، شرموو او مخبری دې پرې کوو.

دعا وکړئ چې موږ له خدای پاک پوهه او علم راکړي

او زموږ په زړونو کښې الله تعالی مینه او محبت، وروولي، عزیزداري، قامولي او اتفاق پیدا کړي.

زما ژوند او جدو جهد ، ۳۱۷ مخ

لار ښوونکی؟

خلک وايي پښتون ترقي ونه کړه په ورانو لارو روان شوی دی.

لیکن حقیقت دا دی چې پښتنو ته چا سمه لار ښودلې ده؟

چا د ورانو نه منع کړی دي او دوی منع شوی نه دی؟

هی افسوس د نورو قومونو په شان د دوی غمخور نشته؛

د دوی شپون نشته ځکه خويې شرمښان خوري او ماتوي.

زما ژوند او جدو جهد ، ۳۱۷ مخ

www.sikaram.com

یهود او فلسطینیان

په فلسطین کښې یهودیانو ښکلې ښکلې نوي کلي، ښارونه او باغونه جوړ کړي دي او لګیا دي جوړوي یې،

لیکن مسلمانان یې لا هغه شان په غفلت کښې پراته دي او د امام مهدي صاحب ته په انتظار کښې دي چې موږ به پخپله څه نه کوو هغه به راشي او هغه به راله هرڅه وکړي.

دوی دومره بې علمه او بې خبره دي چې امام خو پریږده چې پیغمبر راغلی دی او خپل قوم ورسره ملا تړلې نه ده نو پیغمبر کامیابه شوی نه دی.

زما ژوند او جدو جهد، ۳۲۷ مخ

د قوم ترقي

په جیلخانه کښې ما د خپل قوم په حالاتو باندې په ښه شان سره غور کړی و. زه په دې نتیجه ورسیدم چې په دنیا کښې هیڅ قوم بغیر د خپلې ژبې نه ترقي کولی نه شي او په هغوی کښې علوم او فنون پیدا کېدای نه شي. ما دا اراده کړې وه چې ضرور به یوه رساله په پښتو کښې د خپل قوم د پوهولو، د دنیا د حالاتو نه خبرولو او د خپلې ژبې طرف ته د مایل کولو (مخ کولو) د پاره جاري کوم او د دې کوشش به هم کوم چې انجمن په خپله ژبه کښې د بچو د پاره د ابتدایي تعلیم انتظام وکړي.

زما ژوند او جد و جهد، ۳۳۳ مخ

ټوپک که قلم؟

نن ورځې د پښتنو لپاره د ټوپک ضرورت نشته دی،

بلکه د قلم ضرورت دی.

ولې چې زموږ د ملک آزادي به په ټوپک نه وي، بلکه په قلم به وي.

باچا خان لیکونه، لومړی برخه، ۴۳ مخ

امان الله خان او انقلاب

په پښتنو کښې ډېر بادشاهان تېر شوي دي لیکن د پښتنو ښځو، نرو چې څومره مینه او محبت د امان الله خان سره ؤ هغه بل بادشاه سره نه و.

امان الله خان به وې چې زه د پښتنو انقلابي بادشاه یم او د هغه دا خبره بالکل رښتیا وه چې هغه په پښتنو کښې یو عجیبه انقلاب پیدا کړو.

انقلاب یو سیلاب وي چې راشي نو اوده خلک یو سي

او ویښ ترې فایدې اوچتې کړي.

زما ژوند او جدوجهد، ۳۴۱ مخ

په دورو کښې د باچا خان لومړنی تقریر

پښتنو وروڼو !

موږ ستاسو وروڼه یو ، ستاسو خدمتګار یو ، ستاسو خدمت له راغلي یو. راځئ دا خپل وران کور جوړ کړو.

تاسو لږ دې دنیا ته وګورئ که علم مو نشته نو سترګې خو مو شته. د دنیا خلک او قومونه اسمانونو ته وختل او موږ په مځکه پاتې شو.

هغوی چې زموږ په شان بنیادم دي، موږ ورته لاس نیولی دی. چانه دانې غواړو چا نه پیسې غواړو. موږ له خدای د جنت په شان ملک راکړی دی، د دولتونو او نعمتونو نه ډک دی او زموږ پکښې څه حال دی؟

د جوارو ډوډۍ نشته چې په مړه ګېډه یې وخورو.

هغوی ولې اباد شول؟ او موږ ولې پاتې شوو ؟

...

...

هغوی کښې ورورولي ده، قام ولي ده او اتفاق دی.

په موږ کښې پرې دي جمبې دی، بغض دی، کينه ده، نفاق دی.

دا نن دنيا د قام ولۍ دنيا ده.

که قوم شوئ، نو دنيا به مو هم آباده شي او ستاسو آخرت به مو هم آباد شي.

زما ژوند او جدو جهد، ۳۵۷ مخ

www.sikaram.com

سیاسي شعور

سیاسي شعور په یو قوم کښې د اسمانه نه راځي
او چې په کومو قومونو کښې د سیاسي شعور خلک پیدا شي نو خپل قوم پسې وګرځي، هغوی کښې سیاسي شعور پیدا کړي.

مسلمانان ډېر ښه قوم دی خو په هغوی کښې داسې خلک تر اوسه پورې پیدا شوي نه دي.

تاسې د هندوانو، مسلمانانو دې لیډرانو ته فکر وکړئ.

د هندوانو مشران او لیډران قوم پرست دي

خو د مسلمانانو مشران او لیډران خان بهادران او خان صاحبان وي.

زما ژوند او جدوجهد، ۴۲۷ مخ

قامولي

ای ورونړو !

نن د قامولۍ دنیا ده. تاسی وینئ چې کوم قومونو کښې قامولي او وروولي راغلې ده نو هغه آسمان ته وختل او اباد شول.

دا موږ هم یو قوم یو، نو دا موږ ولې پاتې شو؟

دا موږ ځکه پاتې شوو چې موږ کښې قامولي، وروولي، مینه محبت او اتفاق نشته.

نو زه تاسو له ځکه راغلی یم چې تاسو زما قام یئ خو تاسو خپله ژبه، پښتونولی، تمدن او ټول څیزونه پرېښي دي تر دې چې لنګونه مو وهلي دي.

دا هم درته وایم چې یوه مرغۍ د سیل نه جدا شي نو هغه ورکه شي.

زما ژوند او جدوجهد، ۴۳۸ مخ

بد نصيبه قوم

ما دی خپل بد نصيبه قوم ته کتل چې اول خو د دوی د خدمت څوک نه وي
او که څوک يو نيم پيدا هم شی
نو څوک د خدمت موقع نه ورکوي.

زما ژوند او جدو جهد، ۴۵۳ مخ

نفاق

زما يقين دی چې کوم قوم کښې نفاق او ډلې وي هغه خپل منزل ته
رسيدی نه شي
او نن چې موږ غلامان يو د دې وجه نفاق دی او پرې جنبې دي.
زما د ډله بازو او نفاق نه ډېره کرکه کيږي.

زما ژوند او جدو جهد، ۴۴۷ مخ

د ونې مثال

موږ یو قوم یو او د یو بابا اولاد یو.

زموږ مثال د یوې ونې دی چې دې کښې ډېرې څانګې وي خو مونږ یې یو وي او چې څوک د هغې ونې یوه څانګه پرې کوي نو د هغې ونې سوري ته نقصان رسي. او که د هغې ونې مونډ وچ شي نو ټولې څانګې یې وچې شي.

نو نن ورځې پېرنګیان لګیا دي دغه څانګې ورو ورو پرې کوي. تاسو وېښ شئ که دغه څانګې ختم شي نو ستاسو بچي به په نور پاتې شي او د سرسوری به یې ورک شي او که چېرې دغه مونډ وچ شو نو دغه ټولې څانګې به یې وچې شي، یوه به هم پاتې نه شي.

زما ژوند او جدوجهد، ۴۵۵ مخ

www.sikaram.com

يو قوم شئ

زه تاسو ته وايم چې دښمن لګيا دی، تاسو ورکوي او په دې کوشش کښې دی چې دا مونډه وچ شي. که تاسو نه دا مونډه وچ شو نو بيا به ورک شئ.

پاڅئ !

دا خپل کور جوړ کړئ. دا ښېل ښېلوالی پرېږدئ يو قوم شئ.

که يو قوم شوئ نو ستاسو دنيا به هم اباده شي او اخرت هم.

زما ژوند او جدوجهد، ۴۵۶ مخ

خدايي خدمت

موږ پښتانه خدايي کار او خدمت هغه کار او خدمت ته وايو چې بې د کومې طمعې، غرض او اجرت نه د خدای د پاره کوو او خدای خو خدمت ته ضرورت نه لري،

د خدای د مخلوق خدمت د خدای خدمت دی.

زما ژوند او جدوجهد، ۳۵۶ مخ

ښځې

بغیر د ښځو نه یو قوم ترقي کولی نه شي.

ولې چې زموږ د کور او بچو تول پرورش د هغوی په لاس کښې دی

او زموږ د ګاډي چې کومې دوه پایې دي یو سړی او بله ښځه ده.

نو تاسو په خپله خیال وکړئ چې یوه پایه پنچر وي

نو ګاډی به څنګه لاړ شي؟

زما ژوند او جدو جهد، ۴۵۷ مخ

خدايي خدمتګاري

خدای ته د خدمت ضرورت نشته، د خدای خدمت د هغه د مخلوق خدمت
دی او د خدای مخلوق یوازی مسلمانان نه دي، ټول د هغه مخلوق دي.
که هندو دی که سک دی که عیسایی دی زموږ فرض د دنیا نه ظلم ورک
کول دي او مظلوم د ظالم نه خلاصول دي.
موږ به د هغه قوم او حکومت مخالفت کوو چې څوک د خدای په مخلوق
ظلم کوي، که ظالم زموږ ورور او مسلمان هم وي.
بله دا چې زموږ خدمت به د خدای د پاره وي، د څه غرض د پاره به نه وي.
موږ له چې څوک څومره تکلیف راکوي، زور زیاتی راباندې کوي،
موږ به بدل نه اخلو، بلکه صبر به کوو
او د هغه سړي، قوم یا حکومت د پوهولو کوشش به کوو.

زما ژوند او جدوجهد، ۴۵۷ مخ

www.sikaram.com

د تحریک مقصد

دا تحریک زموږ د ورورولۍ او قامولۍ تحریک دی او
موږ دا کوشش کوو چې د ټولو پښتنو یوه ورورولي او قامولي جوړه کړو
او د دوی د زړونو نه بغض، کینه، تربګني او دښمني لیرې کړو.
چې اتفاق پکښې پیدا شي، محبت او همدردي پکښې پیدا شي
او یو قوم شي.

زما ژوند او جدو جهد، ۴۵۸ مخ

www.sikaram.com

ستاسې ملک

ای ورونو !

که یو قوم شوئ، نو تاسو له خدای داسې ملک درکړی دی

چې د دولتونو او نعمتونو نه ډک دی. خو ستاسو د بی اتفاقۍ په وجه

پرې نور خلک مزې کوي او که تاسو یو قوم شوئ نو ستاسو ملک بل

څوک خوړی نه شي.

ستاسو دنیا او اخرت به اباد شي او د داسی ملک چې دې کښې به یو

سړی غریب پاتې نه شي، ټول به خانان شي.

زما ژوند او جدو جهد، ۴۵۸ مخ

بد قسمته قوم

هغه قوم دنیا کښې دېر بد قسمته وی چې هغوی کښې داسی خلک پیدا

شی چې پخپله خو د قوم او ملک د خدمت د پاره تیار نه وی

او چې څوک پکښې د خدمت د پاره پیدا شی نو هغوی خدمت ته نه

پرېږدي. *زما ژوند او جدو جهد، ۵۰۰ مخ*

www.sikaram.com

زموږ ملک

دا ملک خدای موږ له راکړی دی او دغه شان خدای هر یو قوم له یو ملک ورکړی دی.

د دې لپاره چې هغوی او دهغوی بچي پرې آباد شي. ملک خو زموږ دی خو اختیار یې د بل دی او دغه وجه ده چې زموږ بچي وږي تږي او بربنډ دي او مزې پرې نور خلک کوي.

غلامي د خدای لعنت دی او موږ له د دې لعنت نه ځان خلاصول په کار دي او دا به هله وشي چې موږ کې قام ولي، ورورولي، اتفاق او مینه محبت پیدا شي.

زه امید کوم چې تاسو به زما په دې خبرو غور او فکر وکړئ. که دې کښې یوازې زما فایده وي نو مه یې کوئ او که دې کښې ستاسو د دنیا او اخرت ګټه وي نو عمل پرې وکړئ چې تاسو آباد شئ او ستاسو بچي آباد شي.

زما ژوند او جدو جهد، ۵۰۶ مخ

اصلي مطلب

موږ هم یو قوم یو. موږ له هم د خپلې آبادۍ او ترقۍ د پاره څه جدوجهد پکار دی او که ټول عمر په نیستۍ او غلامۍ کښې پراته یو، نو ورک به شو.

زموږ اصلي مطلب قوم کښې مینه، محبت، قامولي، ورورولي او اتفاق دی.

زما ژوند او جدوجهد، ۵۱۰ مخ

صابران

خدای پاک وایي چې زما نه امداد په صبر او اتفاق سره غواړئ.

او خدای پاک ویلي چې څوک زما په لاره کښې مړ شي نو هغه مړ نه دی ژوندی دی، خو تاسو په دې باندې نه پوهېږئ.

او خدای پاک وایی چې زه د صابرانو ملګری یم.

زما ژوند او جدوجهد، ۵۱۱ مخ

زموږ ملاتړ

موږ د خدای د پاره د خدای د مخلوق خدمت ته ملا تړلې ده.

که تاسو هم د خدای د مخلوق خدمت کول غواړئ او خدای رضا کوئ،

نو موږ سره په خدایي خدمتګارۍ کښې ملا وتړئ

چې دا دنیا مو هم جنت شي او اخرت کښې هم د جنت حقدار شو.

زما ژوند او جدو جهد، ۵۱۱ مخ

د خپل ملک جامې او ژبه

د شپې د ټول کلي ښځې را جمع شوې. ما او حکيم صاحب ورته تقريرونه
وکړل چې

تر کومې پورې تاسو د قام د پاره ملا تړلې نه ده، قوم وچتېدی نه شي
او د خپل ملک د جامو اغوستو وعدې مې ترې واخستې
چې د خپل ملک جامی به اغوندي.

زما ژوند او جدو جهد، ۵۱۶ مخ

د هزاري پښتنو !

زما دا خبره ياده ولرئ چې د چا نه ژبه ورکه شوې ده، هغه ورک شوي دي
او چا ته چې خپله ژبه سپکه شوې ده هغه سپک شوي دي.
تاسو خپله ژبه هېره کړې ده او تشه ژبه درنه ورکه شوي نه ده
بلکه ورسره هغه پښتو درنه هم ورکه شوی ده.

زما ژوند او جدو جهد، ۵۱۴ مخ

زموږ مشر

دا تاسو چې زما د بادشاهۍ چغې وهئ نو چې دا تحریک موږ شروع کړی
دی دا خو د باچایۍ د پاره نه دی چې زه دې بادشاه شم.

او که چیرې تاسو ما بادشاه کړئ نو اول خو په اسلام کښې باچایي نشته
او بله دا چې ستاسو به خاورې په سر شي او زما به مزې وي.

نو تاسو پوه شئ چې نه ما او نه بل خپل باچا کړئ.

موږ باچایان جوړول نه غواړو، باچایانو ته مو ضرورت نشته.

زموږ به یو مشر وي او د قوم په رایه او مرضا او مشوره به وي او هغه
سړی به وي چې هغه نېک او ایماندار او د قوم او ملک خیرخواه وي.

تکلیفونه او قرباني او ډېر خدمت یې د قام او ملک کړی وي
او چې د دې مشرۍ اهلیت او پوهه هم پکښې وي.

زما ژوند او جدو جهد، ۵۲۷ مخ

www.sikaram.com

بادشاهي

زموږ حکومت به د جماعت تابع وي، جماعت به د حکومت تابع نه وی.

بادشاهی خراب شی دی او د قوم او ملک پکښې ډېر نقصان دی.

او که چیری نن یو باچا هم ښه وی نو سبا به یې زوی باچا وي، نو څوک ویلی شي چې ګوندې هغه به هم ښه وي. او باچایان کله د قوم ترقي غواړي؟ ولې چې هر وخت دا خیال کوي چې که دا خلک پوه شول نو ما به لیرې کړي، نو هغه هر وخت د قوم د پوهې لاره کښې خنډ ان اچوي.

زما ژوند او جد و جهد، ۵۲۸ مخ

زموږ حکومت

دا ملک زموږ د ټولو پښتنو دی نو موږ یو سړی نه خان کوو.

زموږ به کوشش دا وی چې ټول خانان کړو او داسې حکومت به جوړو و چې هغه کښې مساوات وي او د ټولو خلکو په کښې یو شان خبر او فایده وي. که پوره وي او که سپوره وي، په شریکه به وي. امن وي، انصاف وي زموږ به د ټول قوم یوه جرګه وي او دهغې په خوښه به صدر وي.

زما ژوند او جدو جهد، ۵۲۸ مخ

www.sikaram.com

ښځو ته

دا ملک چې څنګه د سړو دی، دا سې ستا سو هم دی

او دا ستا سو چې څنګه خیال دی چې سړي لوی دي او ښځه وړو کې ده، دا په اسلام کښې نشته. لو یې په عمل ده.

که ښځه بااخلاقه، نېکه او پاکه وي نو هغه لویه ده او که دغه شان یو سړی وي نو هغه هم لوی دی. او که دغه شان یوه ښځه بد عمله، بد اخلاقه وی نو هغه وړو کې ده او که یو سړی هم دغه شان وي نو هغه هم وړو کی دی.

په دې ملک کښې ستا سو موږ سره یو شان حصه ده.

ښځه او سړی د ګاډی دوه پا یې دي. که یوه پنچر شي نو ګاډی مخکښې تلی نه شي.

زما ژوند او جدو جهد، ۵۳۰ مخ

بدل

زموږ د صبر جنګ دی. موږ به د وهلو او ښکنځلو بدل نه اخلو، موږ به صبر کوو او ځان به خدای ته سپارو.

موږ خدایي خدمتګار یو، خدای به زموږ بدل اخلی.

د خپلو زړونو نه خودغرضي او نفاق لیرې کړئ، ځکه چې د دې د لاسه برباد شوي یو. ځان کښې ښه اخلاق پیدا کړئ،

ولې چې د ښو اخلاقو نه بغیر څوک ترقي کولی نه شي.

زما ژوند او جدوجهد، ۵۳۶ مخ

www.sikaram.com

وېره

زه په دې نه پوهېږم چې تاسو ولې د پېرنګيانو نه وېرېږئ. دوی خو ستاسو په شان بنيادم دي، ستاسو په شان يو قوم دی.

تاسو خو پرو جنبو او نفاق تباه کړئ، وېره درکښې پيدا شوې ده.

دچا په زړه کښې چې د خدای وېره وي نو د هغه په زړه کښې د بل چا وېره نه راځي او د چانه نهٔ وېرېږي

او دچا په زړه کښې چې د خدای وېره نه وي، هغه د هر چا نه وېرېږي.

ای ورونو تاسو په زړه کښې د خدای وېره پيدا کړئ.

زما ژوند او جدوجهد، ۵۳۶ مخ

په نورو اعتراضونه

زموږ کار په چا اعتراضونه او نکته چيني نه ده

او دا زموږ کار نه دی چې په نورو جماعتونو او دهغوی په مشرانو نکته

چيني او اعتراض وکړو.

زموږ کار دا دی چې موږ خپل پروګرام خلکو ته پيش کړو چې موږ

ستاسو د پاره دا غواړو او دا کار يوازی نه کېږي.

دا به هله کېږي چې تاسو راسره ملګري شئ.

ملک هم ستاسې او زموږ شريک دی، قوم هم شريک دی

او کار هم شريک دی.

زما ژوند او جدو جهد، ۶۵۱ مخ

مذهبونه

د ګاندي جي په زړه کښې د ټولو مذهبونو يو شان احترام و
او هغه به دا ټول مذهبونه حق ګڼل او زما عقيده هم دغسې ده.
خداى په قران کښې وايي چې ما هر قوم ته د هغوى نه يو هادي لېږلى دى.

زما ژوند او جدو جهد، ۶۸۶ مخ

زما مذهب

زما مذهب رښتيا، مينه، محبت او د خداى د مخلوق خدمت دى.
مذهب همېشه دنيا ته د اخوت او محبت پيغام راوړى دى.

د کومو خلکو په زړونو کښې چې د بنى نوع انسان د پاره رواداري، مينه او محبت نه وي او د کوم سړي په زړه کښې چې نفرت، بغض، کينه وي نو داسې سړى د مذهب نه ډېر لېرې وي.

زما ژوند او جدو جهد، ۶۸۶ مخ

www.sikaram.com

لیډران او قوم

د کوم قوم لیډران زړور وي، هغه قوم کښې زړورتیا پیدا شي، او چې د کوم قوم لیډران بزدل وي، هغه قوم کښې بزدلي پیدا شي.

زما ژوند او جدو جهد، ۷۲۸ مخ





د کلي تحريک

دا تحريک د خداى د مخلوق د خدمت او انسانيت تحريک ؤ.

دې تحريک په مسلمانانو ، هندوانو ، سکهانو کښې د مينې محبت او خدمت جذبه پيدا کړې وه چې پخوا يې مثال نه ؤ.

دا تحريک کليوال تحريک ؤ ، مرکز يې هم په کلي کښې ؤ. ځکه چې اکثريت قوم په کلي کښې اوسي.

د دې تحريک فرق د نورو تحريکونو نه دا ؤ چې نور تحريکونه د ښارونو نه شروع کېږي او په کلو کښې خورېږي.

مګر دا تحريک د کلو نه شروع شو او په ښارونو کښې خور شو.

زما ژوند او جدوجهد ، ۷۲۹ مخ

www.sikaram.com

په کابل کې د هند سفير ته

افغانان، پښتانه به هېڅکله کمونيزم يا روسيه ونه مني. دوی به مړهء
کېږي. څوک چې کولای شي، وطن به پرېږدي.
زه بايد د برژنيف سره خبرې وکړم. زه به هغهء ته ووايم «رحم وکړه».
زه به ريګن ته هم ووايم «رحم وکړه».
کمونستان نه يوازې خلک، بلکه ونې هم په افغانستان کې له منځه وړي.
انقلاب په يو ظلم باندې اوښتی دی.

سفيره، تاسو ځوان ياستئ، خو تاسو بايد يوه غميزه وپېژنئ، اوس په
افغانستان کښې دا سې غميزه روانه ده.
مجاهدين د شپې وژنه کوي. روسي عسکر سهار وژنه کوي.
نتيجه يې دا ده، چې پښتون مري.

٣٠ مخ *Dixit, An Afghan Diary: Zahir Shah to Taliban*

اندرا گاندي ته پیغام

ما تا ته په ځرگنده توگه تشریح کړل، چې ټول افغانان د کمونستانو پر ضد دي. ما تا ته هم ویلي دي، چې په افغانستان کې هېڅ وخت کمونیزم حاکم کیدلای نه شي.
که جگړه دوام وکړي، د افغانستان خلک به له منځه ولاړ شي.
ته د نهرو لور یې او هم دې د گاندي جي او دهغود ملگرو سره ژوند کړی دی، ته ما ته هم د لور په شان یې.
په افغانستان کې ماشومان، ښځې او سړي مري.
ته په خپل زړه کې هېڅ رحم نه لرې؟

Dixit, An Afghan Diary: Zahir Shah to Taliban مخ ۹۳
R. Gandhi: Ghaffar Khan: non-violent Badshah of the Pakhtuns. ۲۵۵ او ۲۵۶ پانه

www.sikaram.com

د قام آبادي

کوم قام کښې چې د خدای د پاره د خدمت خلک پاته نه شي، نو هغه قام پـه دنیا کښې چېرې ترقي کولی نه شي

او چې په کوم قام کښې د خدمت قدر نه وي هغه ملک چېرې آبادېدلی نه شي.

د باچا خان لیکونه، دوهمه برخه، ۴۷ مخ

دین او زړه

زموږ ملک ته اسلام د اسلام په لاره رانه غی، د سیاست په لاره راغی، د ملک ګیرۍ په لاره راغی، د زور او تشدد په لاره راغی.

او په دین کښې زور نشته. بلکه هغه د زور مخالف دی.

لااکره فی الدین. ولې چې د دین تعلق زړه سره دی او زړه په زور یو شی نه قبلوي، بلکه په پوهه یې قبلوي،

نو د دین لار زور نه دی، تبلیغ دی.

د باچا خان لیکونه، دوهمه برخه، ۷۲ مخ

www.sikaram.com

تشدد

د تشدد وسله ټوپک دی.

عدم تشدد محبت دی. په خلقو کښې محبت پیدا کوي. صبر او همت پیدا کوي، جرت پیدا کوي،

تشدد په خلقو کښې نفرت پیدا کوي، ویره او قهر پیدا کوي او تاسې د اسلام ابتدايي او د مکې زندګي وګورئ چې هغه خو د تشدد زندګي وه. او دا څومره لوی صحابه چې په اسلام کښې وو او دا لوی لوی کارونه یې کړي دي، هغه ټول مکي وو او عدم تشدد پیدا کړی دي.

د باچا خان لیکونه، دوهمه برخه، ۷۲ مخ

www.sikaram.com

د جنیکو تعلیم او تربیت

زما خیال ورځ په ورځ د جنیکو تعلیم او تربیت طرف ته زیاتیږي.
ولې چې زه دا خبره د قوم د پاره خطرناکه ګڼم، چې هلکانو له خو دې تعلیم ورکړی شي او جنیکۍ دې د علم نه محروم پاته شي.
چې د دې نتیجه به دا وي چې زموږ هلکان خو به اول جاهلانو ښځو سره ودونه کوي او که چېرې و هم کړي، نو اکثر به یې کور سمون نه خوري او همېشه به پکښې کش مکش وي.
چې د دې نه زموږ ملک او قوم ته د یو لوی نقصان د رسېدو اندیشه ده.

باچا خان لیکونه، لومړی برخه، ۱۵ مخ

www.sikaram.com

د جینکو ورکول

زموږ په قوم کښې دا یوه ډېره د نقص خبره ده چې هغوی جینکۍ په وړوکوالي ورکوي او جینکو له دا موقع نه ورکوي چې هغوی په خپله خوښه واده وکړي او یا که نه غواړي نو نه دې کوي.

د دې متعلق زما دا رایه ده چې دا رسم هم پرېښودل په کار دي.

او هغو له پکار دي چې د ټولو نه اول خپلو بچو له تعلیم ورکړي

او د هغوی د اخلاقي تعلیم او تربیت خاص خیال وساتي

او څه وخت چې هغوی د سبق نه فارغه شي، نو د هغوی د مرضا مطابق د هغوی په معاملاتو کښې هغوی سره د هر قسم امداد وکړي.

باچا خان لیکونه، لومړی برخه، ۱۶ مخ

د ځان خاورې کول

کو مه دانه چې په پټې کښې ځان خاورې نه کړي، هغه هم چېرې زرغونه شوې ده؟ هغې نه هم چېرې بوټی شوی دی؟ او د هغې نه هم چېرې دانه پیدا شوې ده؟

دانې همیشه د هغې دانې نه پیدا کېږي، چې ځان خاورې کړي.

باچا خان لیکونه، لومړی برخه، ۴۶ مخ

اختلاف رای

اختلاف رای همیشه په خلقو کښې وي. اختلاف رای څه بد چیز نه دی. رسول اکرم ص خو د امت اختلاف رای ته رحمت ویلی دی. لیکن په موجوده وخت کښې زموږ د مسلمانانو او بیا خاص زموږ د پښتنو اختلاف رای زحمت دی.

زموږ اختلاف رای نه همېشه ذاتیات جوړېږي او د دې ذاتیاتو په وجه که چېرې د پښتنو تاریخ وګورئ، نو همېشه تباه شوي او برباد شوي دي.

باچا خان لیکونه، لومړی برخه، ۵۶ مخ

د اوسنۍ نړۍ ساتل

اوسنۍ نړۍ په یوازني صورت تنها و تنها کولی شي چې د اتومي اسلحو د شر څخه د عدم تشدد په پیروۍ ځان وساتي.

نړۍ د ګاندي جي غوندې کسانو ته ضرورت لري چې د دوستۍ، محبت او سولې پیغام د پخوا څخه لا زیات خلکو (نړیوالو) ته ورسوي.

په دې شرط سره که واقعا هغوی نه غواړي چې مدنیت او بشریت د هغې د مخ څخه ومینځل شي.

Eknath Easwaren. Nonviolent soldier of Islam, اووم مخ،



د خدايي خدمتګارۍ قسم

- زه خدايي خدمتګار يم او څنګه چې الله تعالی خدمت ته ضرورت نه لري، خو د ده مخلوق ته خدمت، ده ته خدمت دی. زه تعهد کوم چې بشريت ته د الله تعالی په نامه سره خدمت وکړم.
- زه ژمنه کوم چې د تشدد او همدارنګه د بدل اخيستلو څخه ځان وساتم.
- زه تعهد کوم چې هغه څوک چې پر ما تيری او ظلم کوي عفوه کړم.
- زه ژمنه کوم چې خپل ځان د تربګنۍ، جدل او شخړې څخه وساتم او په دښمنيو کې ورګډ نه شم.
- زه وعده کوم چې د هر پښتون سره لکه ورور او ملګری چلند ولرم.
- زه وعده کوم چې پر ضد د ټولنيز رسم او رواجونو، دود او دستور ونه اوسم.
- زه وعده کوم چې ساده ژوند ولرم، ښېګڼې عملي، د شيطانت او بدو اعمالو څخه ځان وساتم.
- زه ژمنه کوم چې ښه سلوک، خوی او خاصيت ولرم. د ټنبلۍ څخه ځان وساتم او وعده کوم چې د ورځې کم له کمه دوه ساعته اجتماعي (ټولنيز) کار ته وقف کړم.

My Life and Struggle, Autobiography of Badshah Khan as narrated to K.B. Narang, مخ ۹۷

خبرې او عمل

دا خبره زما یاده ولرئ

چې په دنیا کښې کوم قومونه چې خبرې لږې کوي او عمل ډېر،

نو هغه قامونه همېشه خپل منزل ته رسیدلي دي.

زه تقریر نه کوم زما په تجویز غور وکړئ.

زما ژوند او جد و جهد، ۳۶۷ مخ

www.sikaram.com

ځان وپیژنئ!

خپل ځان وپېژنئ !

خپل خدای وپېژنئ !

او خپل دوست او دښمن وپېژنئ !

بس نور څه ولیکم ؟

الله تعالی دې موږ ټولو له صبر او استقلال راکړي

او د خپل مخلوق د خدمت توفیق او طاقت دې راته عطا کړي.

باچا خان لیکونه، لومړی برخه، ۱۲۵ مخ

www.sikaram.com

ماخذ:

۱. عبدالغفار ، زما ژوند او جدو جهد. ۱۳۶ هجری شمسی، کابل.دولتی مطبعه

۲. پښتون مجله، اتمه گڼه، ۱۹۹۲ م ، پېښور

۳. ایکنات سوارن، حضرت باچا خان.ژوند او فلسفه، ترجمه غني ختک، ۱۹۹۳ م
اسلام آباد

۴. عبدالله بختانی خدمتگار، د باچا خان لیکونه، دوهمه برخه، دانش خپرندویه ټولنه،
پېښور، ۱۳۸۴ کال

۵. عبدالله بختانی خدمتگار، د باچا خان لیکونه، لومړی برخه، کابل،دولتي مطبعه،
۱۳۶۳ کال

۶. ارشادات و مکتوبات باچې خان ، سید جاوید علی شاه آف نرشک ، کلاسک
پبلشرز نو ښار

1. Abdul Ghaffar Khan; faith is a battle
   Dinanath Gopal Tendulkar, Published for Gandhi Peace Foundation by Popular Prakashan, Bombay, 1967
2. Eknath Easwaren. Nonviolent soldier of Islam, Nilgiri press, USA 1999
3. Rajmohan Gandhi. Ghaffar Khan: non-violent Badshah of the Pakhtuns. Viking, New Delhi, 2004
4. J.N. Dixit, An Afghan Diary: Zahir Shah to Taliban, New Delhi: Konark Publishers, 2000
5. My Life and Struggle, Autobiography of Badshah Khan as narrated to K.B. Narang, Orient Paperback, Delhi, 1969

د افغانستان معلوماتي مرکز (افغانیک)

افغانیک د هېوادوالو، ټولنو او بهرنیو خلکو لپاره د افغانانو او افغانستان په هکله معلومات وړاندې کوي.

آرشیف:

د افغانستان معلوماتي مرکز د ټولو مهمو ټولنیزو، تاریخي، سیاسي، اقتصادي، ادبي او روغتیایي ساحو او پوښتنو په هکله په خپل آرشیف کې معلوماتي مواد (کتابونه، مجلې، اخبار، کستونه) راغونډ کړي دي. دغه مواد په دوو لړیو کې راوستل شوي دي: ۱ -څوک څوک دی ؟ ۲- څه څه دي ؟
د موادو لست په انترنیت پاڼه(www.afghanic.org) کې کتلای شئ.

خپرونې:

۱ - د بشر د حقوقو عمومي اعلامیه
۲ - د افغانستان اساسي قانون ۱۳۴۳کال
۳ - د افغانستان اساسي قانون ۱۳۴۳کال په الماني ژبه
۴ - د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۲
۵ - د افغانستان اساسي قانون۲۰۰۴په انګلیسی ژبه
۶ - زموږ د باچا خبرې

سربېره پر دې افغانیک اوس پر دې باندې کار کوي چې د افغاني ټولنې د بنسټیزو پوښتنو په هکله مستند او علمي معلومات راغونډ او بیا یې د نورو د خبرتیا او د ګټې اخېستلو د پاره خپاره کړي.

اړیکې او معلومات:

AFGHANIC
Visitor´s address:
Justus-von-Liebig-Str 24
53121 Bonn; Germany
Tel +49 228-409 76 30
Fax +49 228-409 7639

Post address:
Post Box 1327
53003 Bonn, Germany
info@afghanic.org
www.afghanic.org

www.sikaram.com

Quotations of Badshah Khan
Badshah Khans Zitate

Collected by / Gesammelt von
Yahya Wardak

یادونه

موږ په دغه لاندې کتابونو هم کار کوو:
۱. زموږ د باچا خبرې، دوهمه برخه
۲. د باچا خان په هکله د نورو خبرې
۳. باچا خان، عدم تشدد او په افغانستان کې د سولې لارې (د مقالو ټولګه)
۴. د باچا خان کتابښود

هیله من یو، چې د دغو خپرونو په لیکلو او چاپولو کښې زموږ سره خپلې مرستې ونسپموئ.

د افغانستان معلوماتي مرکز (افغانیک) آرشیف کې د باچا خان برخه جوړه او دلته معلوماتي مواد (کتابونه، لیکنې، د مجلو او اخبارونو کټنګ، عکسونه او فلمونه) راغونډ او د څېړنو او خپرولو لپاره علاقمندانو ته وړاندې کېږي.

د هېواد والو څخه هیله کېږي، چې په دې کار کې له موږ سره شریک شي.

یحیی وردک, wardak@afghanic.org

د بن ښار ۲۰۰۸، نومبر

www.sikaram.com